# راته ووايه، که فرضي لمونځونه وکړم، د رمضان روژه ونيسم، حلال حلال وګڼم او حرام حرام

د ابی عبدالله، جابر بن عبدالله الأنصاري رضي الله عنهما څخه روايت دی چې: يو سړي له رسول الله ﷺ څخه وپوښتل او ويې ويل: راته ووايه، که فرضي لمونځونه وکړم، د رمضان روژه ونيسم، حلال حلال وګڼم او حرام حرام، او له دې نه زيات نور هېڅ ونه کړم، آیا جنت ته به داخل شم؟ هغه وفرمايل: «هو».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم بيانوي که چېرته يو څوک پنځه فرض لمونځونه اداء کړي او هيڅ نفل ورسره ونه کړي او د رمضان روژه ونيسي او ثوابي روژه ورسره ونه نيسي او د حلالو په روا والي ايمان ولري او تر سره يې کړي، او د حرامو په ناروا والي ايمان ولري او ډډه ترې وکړي، هغه به جنت ته داخل شي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66525

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee